طنز و مزاح

# زوروور نه يا لړې يا غلے!

سيد فريدالله شاه حساس

وائـي چې پـخوا په زمانه کښې يو ,,ځان ځـانـي،، نـومې ګيــدړ ؤ. هــغه د ځنګل په يو غار کښې د ډيـرې مودې نه په دې طمع يواځې اوسېدو چې چـرتــه زوروور سره دوستي جوړه کړي او بيا د هغه په زور باقي ژوند ښه په مزو کښې تېر کړي. هــغـــه پـــه دې خبـره خپـلـو عزيزانو، تربورانو او مشرانو ډېر پوهه کړے ؤ چې زوروور نه يا لړې او يا غـلے. خو هغه د هيچا نه منل او چا چې بۀ ور ته دا قسـمــه نـصيـحتــونه کول هغه به ئې خپل دښمن ګڼلو.

هــم دغسې يــو ورځې نـــه يــو ورځ سخت طــوفـــان او بـــاران ؤ. دومره تيزه سيلۍ وه چې د ځـنـګـل کانړو بوټو هم شور او غوغا جوړه کړې وه. ,,ځـان ځــانـي،، ګيـدړ د خپـل غار په خوله کښې ناست ؤ او د ځنګل تماشه ئې کوله. ناګهانه ئې يو ليوۀ په نظر شو. چې طوفان او باران دومره بې دمه کړے ؤ چې قـدم پـه قـدم بـه راپريوتو او پاڅيدو. ګيــدړ چې ليــوۀ اوليدو نو ډير خوشحاله شو. ځان سره ئې اووې که دۀ سره مې يارانه جوړه شي نو په ټـول ځـنګل کښې به مې څوک مخې ته نه راځي. دغسې تيزۍ سره ګيدړ د ليوۀ مخې ته ورغلو. او وې وئيــل قربان دې شم دا مخامخ زما غريب خانه ده. کـه خـاطر مو نه درنيږي نو راځئ ما سره به لږ دمــه شــئ. د ګيــدړ دا خبره په ليوۀ داسې اولګېده لـکه چې په خُوګ پرهر څوک چا ته پټمئ کيږدي. هغه ګيدړ سره د هغه غار ته ورننوتو. د ځان ځاني ګيـدړ سيــنه د فخر او تکبر نه پلنه شوه. غاړه ئې اوچته شوه او پراتۀ غوږونه ئې يکدم اودرېدۀ.

ليــوۀ هم په دې طوفان او باران کښې د سر د پټيـدو سـوال کړے ؤ او هغه پوره شوے ؤ. هغه چې ساه صورت شو او د ګيدړ غار ته ئې پام اوکړو نـو ډيـر حيرانه شو. هغه څو څو ځله په دې لار تلے راغـلے ؤ خو دا غار ئې چرې نه ؤ ليدلے. زړۀ کښې ئې اووې چې د اوسېـــدو اصـل ځـائې خـو دا دے. ګيـدړ بـه يو سپېږه نيمه اووهم خپله به پوئې شي او خپله لار به واخلي. او دا ښکلے غار به زما شي. بـل طرف ته به ګيدړ خيالي پړي غړل او هاتيان به ئې پرې تړل. د زوروور سره مې ياري شوه. اوس بۀ را له څوک مخې له نه راځي. ,,ځان ځاني،، ګيدړ پـــه دې نــاخبـره ؤ چې څـوک بې ځـايـه سپېرکئ خـرڅـوي نـو ډېـر زر سپېـرکـئ شـي او خولې تـه واچولے شي. باران او طوفان اودرېدلے ؤ. په ځنګل

کښې داسې خاموشه خاموشي خوره شوې وه لکه چې د مرګ راج وي. لیوۀ هم هغسې د غار په خوله کښې پروت ؤ. ګیدړ ور له ډیر په ناز او انداز کښې خواله راغلو. وې لیوۀ جانه په ما ګرانه باد و باران خو د خپره سره اودرېدو. لیوۀ باندې د ګیدړ دا خبره ډیره بده اولګېده. خماري سترګې ئې داسې رو غوندې ور ته راوچتې کړې او ډیر په قهر ئې ور ته اووې. زۀ څه ړوند نه یم. د لیوۀ دا قسمه کتو او داسې انداز سره د ګیدړ زړۀ اک دم ډیر لاندې پریوتو. د خطرې احساس ور ته وشو خو اوس اوبه د ورخه تېرې وې.

لیوۀ غار کښې اخوا دیخوا یو نظر واچولو بیا راپاڅېدو د ګیدړ خوا له راغلو او وې وئیل دا غار مې ډېر خوښ شو. په دې تا کله نه قبضه کړې ده. ګیدړ وارخطا انداز کښې اووې قربان دا خو ما ته د پلار نیکه نه پاتې دے. لیوۀ اووې ما ته معلومه ده. ستا پلار نیکه د قبضه ګروپ سره تعلق لرلو دا غار ئې زما د نیکه نه په زور نیولے ؤ. ما ته به اکثر له خپل پلار قیصه کوله چې بچے ستا نیکه دوو ګیدړانو وژلے ؤ. لیوۀ ګیدړ ته بلکل مخامخ اودرېدو او ور ته ئې اووې ښه ده چې خدائې په ګوتو راکړې د نیکه بدل به هم در نه اخلم او خپل آبائي ځائې به هم خپلوم. زورور د نوک په ځائې کښې سُوک ځائې کوي. او لیوۀ هم د دغه فن مظاهره کوله. ګیدړ حق دق حیرانه ؤ او وې وئیل په ما ګرانه لیوۀ جانه داسې نه ده دا څنګه چې ته وائې. دا خبره لا د ,,ځان ځاني،، ګیدړ په خوله کښې وه چې لیوۀ ور له یو داسې مضبوطه سپېړه ورکړه چې ګیدړ ئې د مالوچ غوندې د غار په ګوټ کښې اوویشتو. د ګیدړ په مازغو کښې دغه سپېړې سره یو داسې پړق شوے ؤ چې هغه ته په خپل غار کښې اووه واړه آسمانونه او نمر او سپوږمۍ سنګ په سنګ ښکاره شوه. هغه ته معلومه شوه چې اوبه د پاسه خړې شي نو تر آخره خړې وي. هغه د غار په ګوټ کښې یو شېبه بې دمه پروت ؤ. بیا یو ساعت پس ئې چې سر راوچت کړو نو ټوله دنیا ور ته په ګردش کښې ښکاره شوه. ځان ځاني ګیدړ چې په اړنګ دوړنګ قدمونو د پاڅېدو هڅه کوله نو دغه وخت کښې لیوۀ راغے او هغه ئې د مرۍ نه انیوو. لیوۀ په خپل زور نه پوهېدو او کمزوري ګیدړ ته خپل مرګ یقیني ښکاره شو.

ګیدړ په کمزوري آواز اووې لیوۀ جانه په ما ګرانه. ستا ټولې خبرې ما ته رښتیا معلومېږي. زما نیکونو به خامخا ستا نیکه وژلے وي ځکه چې ستا غوندې د سپینې جامې خلق دروغ نه وائي. او ما ته اوس ستا د سپېړې نه پس ناګهانه دا خبره را یاده شوه چې زما پلار نیکه په دې علاقه کښې په دروغژنو مشور وو. دا ځائې به هم ستا وي. ستا د هغه تورزن او سرتیزه نیکه به

وي کـوم چې دوه ګـيـدړانـو ټک ټوک کړے ؤ. خو يـقيـن اوکړه زمـا دې ستا په دې بوچۍ لکۍ قسم وي چې زۀ پـه دې ټـولـه قيـصه کښې بې ګناه يم. ليوۀ چې د ګيدړ دا خبرې واورېدې نو د ګيدړ مرۍ بـانـدې ئې خپـل ګـرفت لږ نرم کړو. او ور تـه ئې غـصه کښې اووې که دا خبره وي نو بيا زر تر زره د دې ځـايـه خپې سپـکوه چې دلته دې اونه وينم. ګيـدړ اووې قـربان دې شم زما پلار نيکه چې ستا نيکه سره کوم ظلمونه کړي وو زه وايم چې د هغې لږ غـونـدې بدل خلاص کړم او دا باقي عمر ستا په غــلامۍ کښې تېــر کړم. ليــوۀ د ګيـدړ مــرۍ پـريښوده. هغه بې دمه غوندې يو طرف ته پريوتو او ليــوۀ ور تــه اووې دا خبـره دې هم بده نه ده. خو يـاد سـاته په هېره هم چرې زړۀ کښې دا خيال رانه ولې چې ګـنې دا غـار ستـا دے. ګيدړ په درديدلې مرۍ لاس کيښود او وې وئيل ليونے خو نه يم چې زورور به مې تر نظره کمزورے ښکاره کېږي.

يـو شپـه چې ليـوۀ اوده شـو نو ګيدړ غلے غـوندې د غاره اووتو. او د ځنګل ټول ګيدړان ئې ډيـر پـــه ګـرانـــه راجمع کړل ځکـه چې د ځنګل د ګيـدړانو اووه کوره کلي وو او نهه ئې مشران وو. هـر چا پکښې خپله خپله سرسينده غړوله او د بل بـه ئې نه اورېدۀ. ځان ځاني ګيدړ ټول ډير په ګرانه خـامـوش کړل او بيـا ئې ور تـه اووې ډيرې ګرانې سـره مـخ يم. ليوۀ را نه کور ګېر کړے دے. اتفاق راسره اوکړئ چې دې ليوۀ نه مې ځان خلاص شي. يـو زوړ ګيـدړ چې زيړ زيړ غوندې غوړېونه ئې وو هـغه د ځان ځاني ګيدړ د تقرير نه پس راپاڅېدو او ځان ځاني ته ئې اووې دې ليوۀ په دې ځنګل کښې د هــر ګيـدړ کور وران کړے دے. اکثـر لـه داسې شـوي دي چې د يـو ګيدړ کور ورانولو کښې به بل ګيـدړ د ليـوۀ سـره مـرستيـال او ملاتړ ؤ. ليوۀ به زورور وي خـو دا خبـره هـم غـلطه نه ده چې مونږ پـرې خپـل کـورونـــه خپلـه وران کړي دي. د زوړ ګيـــدړ د خبـــرې دوران کښې يـــو سـورپ ګيـدړ راپـــاڅېـدو او ځـــان ځـاني ګيدړ تـه ئې اووې پـه ټپـوسـانـو څـوک مړزان نه نيسي. ته په ګيدړانو ليوۀ څنګه نيسې. مونږ ځان سره څله غرقوې.

ځـان ځـاني ور ته اووې اتفاق کښې برکت دے. تاسو نه دي اورېدلي چې دوو ګيدړانو زمرے مـــات کړے دے. سـورب ګيدړ ور تـه اووې دا چـا دروغ وئيـلـي دي. دوه ګيدړان د يو بل د سوري نه يـريږي او مـنډې وهـي نـو هـغه به زمرے څه مات کړي. ځـان ځـانـي ګيدړ ته دا معلومه شوه چې په نسکور خپل پردي هر څوک خپې ايږدي او ټپونه پـرې وهـي. خـو بيـا ئې هـم زړۀ صبر نه شو او يو آخـري کـوشـــش ئې اوکړو. ټـولو ګيدړانو ته ئې اووې زه ستـــاسـو د قـام يم. پـه مـا ننګ اوکړئ. لوخې ته اوګورئ په قام ئې ننګ نه ؤ کړے نن ئې هـم پـه اوبـو کښې سر اوچ دے. د ځان ځاني ګيدړ

دې خبرې سره يو مرضي غوندې ګيدړ په خپل کمزوري او مات ګوډ آواز کښې اووې تا سره که ننګ کوؤ نو د لوخې خو صرف سر اوچ دے. زمونږ به مونډ هم اوچ وي. دا دنيا نه په تا ورانېږي او نه ودانېږي. خپل غم دې ژاړا خپل به ژاړو. څان څاني ګيدړ په دې خبره پوهه شو چې زما په سر او سينه هم زما قام ته مالوچ ښکاري. او دوي ته ژړا فرياد کول داسې دي لکه چې کنو ته ډول وهې. ړندو ته ګډېږي او ګونګيانو ته د سُر او تال طمع کوې. څان څاني ګيدړ ډېر مايوسه انداز کښې د ګيدړانو د جرګې نه راستون شو.

څان څاني ګيدړ پته نشته د چا نه دا اورېدلي وو چې پروت زمري نه ګرځنده ګيدړ ښه وي. دې خبرې په څان څاني ګيدړ دومره اثر کړے ؤ چې هغه به هيڅ بې هڅه د ليونو غوندې اخوا ديخوا منډې وهلې. او څان له به ئې په دې زړۀ خوشحالولو چې زه د پروت زمري نه ښه يم. يو ورځ هغه هم داسې هوا خوري کوله چې يو ډېر ښکلے د انګورو باغ ئې اوليدو. د دغه باغ په انګورو څناورو د تالا مال غوندې تالان جوړ کړے ؤ. څکه خو اوس د باغ مالک د باغ نه ګېر چاپېره غتې غتې کندې کنستي وي. او دغه کندې ئې په وخو او لختو داسې پټې کړې وې چې باغ ته راتلونکو څناورو ته هغه نه ښکارېدې او هر راتلونکي څناور به په ناخبرۍ کښې د انګورو په شوق کښې ننغ په ننغه دغه کندو کښې پرېوتو او د باغ مالک به ورسره بيا په ښه آزاد مټ د ټولو خوړولو څکلو حساب کولو. ګيدړ چې دا هر څه اوليدۀ ډېر خوشحاله شو. زړۀ کښې ئې اووې زورور دښمنه ډېر دې کړولے او ژړولے يم. اوس به دې په خپلو غوړو کښې سېزم.

په دغه ورځ چې ګيدړ غار ته راغے نو د ليوۀ خولې سره ئې يو دوه هډرکي اوکړل او په خېته ئې لاس اووهلو. وې ډېر خوند ئې اوکړو. ليوۀ ور ته په غصه کښې اووې اخوا شه مرداره. مزې دې څان څان له اوکړې او هډرکي زما سپېکمو کښې کوې. دا زړۀ مې وائي چې په دې پنجه در نه لرے او کولمې رابهر کړم. ګيدړ ور ته اووې صيبه مهربانه غصه کېږې څله؟ که دې زړۀ کېږي نو بېګاه له به تا له هم چکر درکړم.

په دغه شپه ګيدړ وړاندې ؤ او ليوۀ ورپسې ؤ. چې دواړه د انګورو باغ ته اورسېدل نو ګيدړ يکدم اودرېدو. ليوۀ ور ته اووې ولې؟ ګيدړ ور ته اووې دا مخامخ د انګورو باغ دے. ته مشر ئې او مشر د مشرۍ څائې لري ته وړاندې شه زه به درپسې شم. ليوۀ اووې که دا خبره وي نو راځه راپسې. ليوۀ وړاندې لکه د نصيب وهلي ښکار د ګولۍ مخې له ور روان ؤ او ګيدړ ورپسې ډېر محتاط انداز کښې ور روان ؤ. ليوه د انګورو يو غنچې له نزدې ورغلو او چې ورټوپ کولو ئې نو

ناګهانه ئې يو خپه کنده کښې لاړه. ډېر لاس خپې ئې اووهـل چې ځـان قـابو کړي خو کنده ډېره ژوره وه ليـوۀ د نړيـدلـي ديـوال غـونډې پـه کنده کښې ډېـرى شـو. بـره ئې چې اوکاتۀ نو ځان ځاني ګيدړ ور تـه شـونډو لانـدې مسـکې ولاړ ؤ. ليوۀ ته ئې اووې مـا خو تۀ ډېره لويه بلا ګڼلې تۀ خو د خراړې غونډې د يو ډز سره لاړې.

ليـوۀ ګيـدړ ته په ژړا شو. وې ګيدړ ماما څـه چـل کـوه د دې ځـايـه مې اوباسه. ګيدړ ور ته اووې نـمک حـرامـه تراوسه دې په ژوند ښپيمانه کړے وم. اوس چې ګېـر شـوې نو ماما را ته وائې. نـور بـه ستا په دې خوږه خوله دهوکه نه شم. ليوۀ ور تـه د کـنډې نه په دردېدلي آواز کښې اووې زه مـنم ستا هر نقصان تاوان منم خو دې کندې نه مې بهـر کړه؟ ګيدړ ور ته اووې اوس به در ته معلومه شي چې د سېره څو پخېږي.

ګيـدړ جـذبـاتـي انداز کښې اووې تـه هم ظـالم ئې. ستا پلار هم ظالم ؤ. ستا نيکه هم ظالم ؤ تـول عـمـر تـاسو زمونږ غونډې د بې وسو وينې څـکـلـي دي. او خپـلې غټې غټې خيټې مو پرې ډکې کړې دي. تـا دپـاره دا کنده بهترين ځائې دے هم دلته اوسه چې د ظلم نه دې نور مخلوق په امان وي. د ليـوۀ ويـره،فـرياد، منتونو او زارو ګيدړ له ډېـر خـونـد ورکړے ؤ. شپـه تېره شوه سحر نزدې شـو. ګيـدړ د ليـوۀ ژړا نــه هـم هغسې خوندونـه اخستـل چې دې دوران کښې پـــه نزدې لاره چرتـه زميـدارر تېـرېدو هغه هسې چرته غاړه تازه کړه. ګيـدړ اووې ګنې د باغ مالک راغے د يرې نه يکدم يـو ټـوپ سـره تاؤ شو او خپل توازن ئې ګډوډ شو نېـغ پـه کـنـده کښې د ليـوۀ د پاسه ور ډېرے شو. ليـوۀ خـو هسې هـم ګيـدړ ته وريت پريت ناست ؤ هـغـه دې غـوړونـو لانـدې باندې داسې اوهلو چې ګيـدړ اووې ګـنې قيـامـت شـو. ليوۀ بيا په غصه کښې ګيـدړ تـه اووې دا زړه مې وائي چې اوس په دې دم دې تـختـه کړم. ګيدړ اووې عاليجاه رحم. ليـوۀ ور تـه اووې رحـم به درباندې هله کوم چې د کـنـدې نـه د وتو لار را ته ښايه. ګيدړ ور ته اووې کـنـدې تـه چې څـومـره پـه آسانه پريواته دې هم دومـره په ګرانه ترې واته دې. البته د وتلو يو حل ما سره شته. ليوۀ ور ته اووې هغه څه؟

ګيـدړ ور تـه اووې مـا يـو ځلې يو بنيادم سـره ډېـر ښـه کړي وو د مـرګـه مې بچ کړے ؤ ډېر احسان مند مې دے. که يو ځلې ورمخامخ شوم نو خـامـخـا بـه راسـره راځـي او تا به پرې د کندې نه اوبـاسـم. خـو بـس تـه دومره قدرې کار اوکړه چې مـالـه يـو ديکه راکړه او دې کندې نه مې بهر کړه. ليوۀ ور ته اووې چې تا د کندې نه بهر کوم نو ځان ولې نـه بهر کوم. ستا دپاسه به خپې کېږدم او بهر بـه ټـوپ کړم. ګيـدړ ور تـه اووې قربان شمه. ډېر دروند ئې مړ به مې کړې. ستا وزن ګرانه ده که زۀ

بـرداشـت کړم. لیـوۀ ور تـــه اووې ګـنده بوټـے ئې دومـره پـه آسـانه نه مرې. او دې خبرې سره ئې د ګیدړ په سر خپه کیښوده او د کندې نه د وتو دپاره ئې یو ټوپ اوهلو. خو کنده ډېره ژوره وه. لیوۀ په خپـل مـقـصد کښې کامیابه نه شو او نېغ په کنده کښې د ګیـدړ دپـاسـه ورپـریوتو. د ګیدړ د خولې فـریـادونـــه او څـــه نــور پـیـژندګلو آوازونـه لیوۀ واوریـدۀ. د بـدبوداره هوا چپو سره د کندې ماحول یـکدم باغ و بهار شو. لیوۀ ګیدړ ته اووې بدبخته دومره زر پنچر شوې. او د کندې نه د وتو دپاره ئې یـو بـل ټـوپ اووهـلـو. او بیـا نـاکـامـه پـه ګیدړ راپریوتو. دا ټیک ده چې بې اجله مرګ نشته ګنې دغـه وخـت لیوۀ ګیدړ د خپله لاسه وژلے ؤ. ګیدړ ته هم دا معلومه شوه چې یواځې اوسپنه په ټکېدو نـــه پـلـنېږي. بـلـکې د دنیـا هـر څیز ټکولو سره پلنېږي هم او خپل حالت هم بدلوي.

ګیـدړ ډېـر په دردېدلي آواز کښې لیوۀ ته اووې پـه اوچـه زمـکه لامبو مه وه زۀ دې هیڅ بې هیڅـه چکنې کړم. ما به هم مړ کړې او خپله به هم څه اونه کړې. ما بهر کړه چې ټوله لوبه در ته سمه کړم. لیـوه پوهه شو چې د ګیدړ نه بغیر ئې نه شم شـل کولے. ګیدړ ئې راوچت کړو او لکه د مردارئ تیـکـیٔ ئې د کـندې نه بهر اوویشتو. ګیدړ کښې یـکدم د ژوند رنګونه راؤټوکیدۀ. د خوشحالۍ نه ئې د وغ وغ یـو اوږده چـغـه کړه. پـه دغـه وغ وغ کښې د فـن او د آواز د زیـر و بـم ټولـه استاذي او کمالات داسې ښکاره وو چې د هغه آواز د شپې په خـامـوشۍ کښې تر لرې لرې پورې چپه چپه خور شـو. لیـوۀ ور تـه غصه کښې اووې بدبخته دا څه کـوې خـلق راباندې څله خبروې. سحر شوے دے. رڼا خورېږي څله د خلقو را ته پام کوې.

ګیدړ ور ته اووې بدبخته زۀ نه یم ته ئې. نـه در نـه زۀ په ځنګل کښې په آرام ؤم نه درنه په دې کنده کښې په آرام ؤم. پرېږده چې څوک راشي او دې کـنـده کښې دې مـردار کړي. ستا غونډې د ظـالـم هم دغه انجام وي. لیوۀ ګیدړ ته ډېر منتونه اوکړۀ خـو ګیدړ پرې ځان کوڼ کړے ؤ. او د وغ وغ ګـردان ئې تر هغې پورې جاري ساتلے ؤ تر څو چې د بـاغ مـالک سـره د نورو ګنو کسانو نه ؤ راغلے. ګیـدړ چې پـوهه شو چې خلق نزدې راغلل نو هغه خپـل قدرتي رفتار سره د سترګو رپ کښې داسې غـائـب شـو لـکـه چې هلته اډو ؤ نه. خلق او د باغ مالک چې راغلل او په کنده کښې ئې لیوۀ اولیدو نـو چـا پـه کاڼو ویشتو. چا په کوتکو وهلو. چا ور تـه بـد رد وئیـل. او لیـوۀ ئې په کنده کښې مردار کړو. دنیـا کښې د هـر لیـوۀ دغه انجام وي. خو نۀ لیـوۀ ګـان کـم شـو. او نـــه ئې د یـو بـل نـه سبق واخستو.

☆☆☆